# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



ققنوس لمبه


۱۹.۰۳.۰۹

# سوات د بنسټپالی په اور کې بلهاري کيږي

د امريکا او انګليس د پلان له مخې د "ترهګری ضد جګړې" د اور لمبې د افغانستان له پولو څخه لومړی شمالي او جنوبي وزيرستان، بيا باجوړ، خير ايجنسي، مهمندايجنسي او اوس سوات ته رسيدلي دي. د سوات ستراتيژيکه دره چې د اسلام آباد په ۸۰ ميلي کې موقعيت لري دا مهال د هغو طالبو بنسټپالو په لاس کې ده چې د القاعده سره ډيرې نژدې اړيکې لري.

د ترهګرۍ ضد جګړه چې د ترهګرو د نابودولو په پلمه پيل شوی، پر هغو ناوړو موخو ودريدلي ده چې يوازې بنسټپالان يې پلي کولای شي او له همدې امله په دې سيمه کې بنسټپالي ورځ تر بلې په پراخيدو ده او انګلستان او امريکا چې په سيمه کې دوه غښتلي امپرياليستي ځواکونه دي له دې جګړې څخه د خپلې امپرياليستي ستراتيژۍ لپاره کار اخلي. انګلستان په لټه کې دی چې باجوړ، سوات، جنوبي او شمالي وزيرستان، خيبر او مهمند ايجنسياني او نورې قبايلي سيمې ټولې طالبانيزه کړه او خپل مذهبي مريبان د امپرياليستي تګلارې د پلي کولو لپاره وکاروي. امريکا هم په سيمه کې خپلې ځانګړې ګټې لري چې کله د بنسټپالی په پياوړي کولو او کله هم د سيکولارانو په برياليتوب سره، نه غواړي دا ډګر يوازې انګلستان ته پريږدي.

که څه هم انګلستان او امريکا په نړيواله کچه يو واحد ښکيلاکي سياست مخې ته وړي او دواړه هڅه کوي چې خپلې امپراتورياني پراخه کړي، خو د ګټو خونديتوب هغه چاره ده چې دا ښکيلاکي سياست په ځينو حالاتو کې په متضاد امپرياليستي سياست اړوي او دا متضاد سياست په سيمه کې د شته ارتجاعي ځواکونو څخه د ملاتړ په بڼه کې راڅرګنديږي. په قبايلي سيمو کې که له يوې خوا امريکايي پوځونه د بې پيلوټو الوتکو په مټ بمباري کوي، له بلې خوا انګلستان د خپلو پخوانيو ګټو په پام کې نيولو سره غواړي دا سيمې د بنسټپالانو د پياوړتيا له لارې په خپلو منګلو کې ولري او د ديموکلس د توري په شان يې وکاروي.

دواړه امپرياليستي سياستونه د ترهګرۍ او بنسټپالی د پراخيدو لامل شوي دي. په افغانستان کې د انګلستان او امريکا همدا ناوړه سياست سبب شوی چې دولتي بنسټپالي (جنګسالاران) او نادولتي بنسټپالي (طالبان) غښتلي شي؛ په پاکستان کې نه يوازې صوبه سرحد او صوبه بلوچستان بلکې پنجاب او آن سند د بنسټپالی خواته ودرومي او د دې هيواد څه باندې يو پر پنځم مساحت عملا د بنسټپالی په اور کې وسوځي، د ايراني آخوندي حضور پياوړی شي، په

عراق کې کوچني او لوی بنسټپاله ډلي زور وومومي، په فلسطين کې بنسټپالان د فلسطينيانو آزادي بخښونکي هيلي په خاوری بدلي کړي، په لبنان کې حزب الله پياوړې شي او سويلي آسيا په ټوليزه توګه د شخړو او کشالو سره مخامخ شي.

د همدغه امپرياليستي سياست له مخې، د سوات دره چې څو کاله مخکې يوه آرام او د کورنيو او نړيوالو سيلانيانو لپاره يوه ډاډمنه سيمه ګڼل کيده، اوس د اور په لمبو کې سوځي. د سوات طالبانو چې مشري يې مولانا فضل الله کوي په ۲۰۰۷ کال کې د شريعت د تطبيق په نامه په دې دره کې د پاکستان له حکومت سره جګړه پيل کړه چې د ۱۲۰۰ کسانو د وژل کيدو، د څه باندې ۳۵۰ زره کسانو د کډوالی او د انجونو د ۲۰۰ ښوونځيو د ړنګو لامل شوه.

په داسي حال کې چې مولانا صوفي محمد (د مولانا فضل الله خسر) د انجونو څه باندی ۲۰۰ ښوونځي ړنګ کړي دي او دموکراسي د لويديځ يوه شيطاني پديده ګڼي؛ د پاکستان سکيولر ګوند، ملي عوامي ګوند، د يو تړون له مخې د صوفي محمد غوښتنو ته په ګونډو شو او په دې توګه يې د سوات خلك او ولس هغه شيطان ته وسپارل چې کلونه مخکې يې باجوړ د "تورپټکو" په اور کې سوځولي و. د ملي عوامي ګوند "سره اغوستنکو" رهبرانو سوات هغه مرتجع "تورپټکو" ته وسپارو چې دا دره يې دم ګړی په منځني پيړۍ کې ودرولی ده او دا کار ښکاره کوي چې سرکاري ګوندونه نه د ولس د خدمت تابيه لري او نه هم ورته د ولس برخليك کوم ارزښت لري. دا ډول ګوندونه چې د سيکولريزم او پرمختګ پيښي کوي، يوازې د خپل خانخاني او د ښکيلاکګرو بادارانو د ګټو د خونديتوب په لټه کې دي او هره ګړۍ حاضر دي چې د خلکو پر ژوند قمار ووهي، او ملي عوامي ګوند د دې قماروهونکو يوه ښکاره ځيره ده.

که څه هم په دې وروستيو کې د پاکستان ولسمشر يوځل بيا اعلان وکړ چې د تندلارو بنسټپالو سره به جوړجاړی ونکړي او په ځانګړي توګه په سوات کې به اجازه ورنکړي چې د انجوني ښوونځيو وتړل شي، خو د پاکستان په استخباراتي ادارو کې د بنسټپالو رغنده شتون او له دې ادارو څخه د امريکا او انګليس ښکاره ملاتړ او صوفي محمد ته د زرداري حکومت تسليمدل په ښکاره توګه ښيي چې دا يوازې لاپې او شاپې دي او څه چې دم ګړی په پاکستان کې پلي کيږي د پاکستان د بادرانو(انګلستان او امريکا) له سياست سره سم پلي کيږي او دا سياست به د القاعدې په ګټه دوام ولري.